# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل


www.maseerdaily.af

چهارشنبه د ۱۳۹۹ د مرغومې ۲۴مه | د ۲۰۲۱ د جنوري ۱۳مه | ۶۶۳مه ګڼه


## کتاب


۴ مخ

### داسې ژوند وکړئ




په دغه کتاب کې ورېځ، لنډې او اغېزناکې لارې چارې دي چې په عملي کولو سره يې کولی شو خوشاله او بريالی ژوند وکړو. په کتاب کې لنډې او اغېزناکې جملې له ۲۰ زیاتو کتابونو او د انټرنېټ له بېلابېلو معتبرو سرچينو را ژباړل شوې دي.

### سوداګرۍ وزارت: سپين زر دولتي فابريکې له ۲۵ کلونو وروسته يوځل بيا فعاليت پيل کړ



د صنعت او سوداګرۍ وزارت چارواکي وايي چې په کندز کې سپين زر دولتي فابريکې له ۲۵ کلونو وروسته يوځل بيا خپل فعاليت پيل کړ.

د ياد وزارت وياند فواد احمدي زياتوي چې دغې توليدي فابريکې د۱۲۰ زره امريکايي ډالرو په پانګونې سره له ۲۵ کلونو وروسته خپل فعاليت بېرته پيل کړی دی.

د نوموړي په خبره، ياده فابريکه په ۲۴ ساعتونو کې لس ټنه غوړي توليدوي او د ترڅنګ يې د زغرو، کونځلو او پنبه دانې غوړي، کنجاړه او صابون هم جوړوي.

چارواکي وايې، د کندز سپين زر توليدي فابريکه پر کندز سربېره، خپل توليدات نورو ګانډيو ولايتونو ته هم د خرڅلاو په موخه استوي. د يادونې ده چې د سپين زر توليدي فابريکه چې له کلونو راهيسې يې فعاليت په ټپه درېدلی و، له ازبکستان څخه يې پنځه پايې ماشينونه د يادې فابريکې د بېرته فعاليت په موخه وپېرل او کار يې پيل کړ چې اوسمهال يکې ۵۰ تنو ته د کار زمينه برابره شوې ده.

# د موقت حکومت په لټه کې؛

## خليلزاد پر سوله د خبرو لپاره افغان سياسيون دوبۍ ته وربللي دي



۳

د موقت حکومت مخالفت، معقوليت او پايلي

۲ مخ

حاشيه های جنگ قره باغ

۲ مخ

راه لاجورد و فرصت های آن

۳ مخ

### د افغان حکومت له چوپتيا سره هممهاله؛ د پاکستاني پوځ له خوا پر ډيورنډ فرضي کرښه د اغزن تار لګولو چارې په بشپړېدو دي

پاکستاني پوځ ويلي چې پر ډيورنډ فرضي کرښه د اغزن تار لګولو چارې په بشپړېدو دي. د پاکستاني پوځ وياند بابر افتخار ويلي، چې پر ډيورنډ کرښه د اغزن تار لګولو چارې اتيا سلنه بشپړې شوې او ټاکل شوې چې د روان کال تر نيمايي پورې په بشپړه توګه پای ته ورسېږي.

نوموړي ويلي، چې دا کار يې د ترهګرو د تګ راتګ د مخنيوي په موخه کړی او دوی تمه لري چې پر همدې کرښه د اغزن تار تر لګولو وروسته به د کرښې دواړو غاړو ته د ترهګريزو فعاليتونو مخه ونيول شي. پر ډيورنډ فرضي کرښه چې پاکستان يې پوله بولي، د اغزن تار لګولو له پيله تر اوسه د کرښې دواړو غاړو ته مېشتو افغانانو توند غبرګونونه ښودلي او له افغان حکومت څخه يې د دغه کار د مخنيوي غوښتنه کړې، خو افغان حکومت چوپ دی او د چارو شنونکي د افغان حکومت چوپتيا پر دغه کرښه د معاملې نښه بولي.

دا په داسې حال کې ده چې د ډيورنډ فرضي کرښې په اوږدو کې د پاکستاني پوځيانو له خوا د اغزن سيم تېرېدو ځينې کلي په دوو برخو وېشلي دي. د کرښې دواړو غاړو ته پراته ولسونه بيا د پاکستاني پوځ دغه کار ظالمانه بولي او خبرداری ورکوي چې پاکستان د اغزن تار په لګولو سره ولسونه په خپلو کې نه شي بېلولی.

### پنټاګون: روانه اونۍ به په افغانستان کې د امريکايي سرتېرو شمېر ۲۵۰۰ ته راکم شي



۵ مخ

### ولسي جرگه: ایجاد نهاد پالیسی و ستراتیژی در ارگ خلاف قانون است



کمیسیون دفاعی ولسی جرگه می‌گوید که ادارۀ امور ریاست‌جمهوری خلاف قانون بخشی را به نام «نهاد پالیسی و ستراتیژی» در تشکیلات اش اضافه کرده و این نهاد خلاف کار شیوه‌های تدارکاتی پیمان‌های گوشت وزارت دفاع و داخله را با یک شرکت امضا کرده‌است.


رئیس این کمیسیون می گوید که این اداره چون یک نهاد موازی با اداره تدارکات ملی کار می کند وشرکت پیمان کار گوشت را با یک هزینه گزاف به جزوتام‌های نیروهای دولتی انتقال میدهد.

مسؤلان بخش لوجستیک و خریداری وزارت دفاع می گویند از چگونه گی پیمان با شرکتی که از سوی نهاد پالیسی و ستراتیژی گزینش نشده‌است اطلاعی ندارند.

مسؤلان بخش لوجستیک و خریداری وزارت دفاع ملی از بهر چگونگی پیمان‌های خریداری و انتقال گوشت به جزوتام‌های وزارت دفاع ملی دیروز به کمیسیون دفاعی ولسی جرگه فراخوانده شدند.

میر حیدرافضلی، رئیس کمیسیون دفاعی ولسی جرگه گفت:«در اداره امور یک اداره ایجاد کردند به نام اداره پالیسی و ستراتیژی که در قانون جایگاه حقوقی ندارد این اداره طرحی را به ریاست‌جمهوری فرستاده گویا می خواهند تصدی‌ها را فعال بسازند و خلاف تمام طرزالعمل‌های تدارکاتی گوشت وزارت دفاع را قرار داد کردند.»

مسؤل بخش حقوقی شرکت‌های که برای تامین گوشت به وزارت‌های دفاع ملی و امور داخله داوطلب بودند می گوید که نرخ فراهم سازی گوشتی را که این شرکت پیمان کار وابسته به اداره امور ریاست جمهوری پیشنهاد کرده گزاف تر و حتی دو برابر از دیگر شرکت‌های داوطلب است.

Aksos

اکسوس کتابپلورنځی

Aksos Book Store

Add a Book to Your Life

دهبوريو پارک جنوبي دروازي ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

aksosbookstore@gmail.com

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

Aksos Book Store

## سرلیکنه

# د موقت حکومت مخالفت، معقولیت او پایلې

اوس اوس د موقت حکومت د غوښتونکو اصلي ادرس معلومېږي او ښکاري چې څوک په افغانستان کې د موقت حکومت په هڅه کې دي. تازه په کابل کې ځينو سياستوالو ته نږدې کسانو تاييد کړې چې زلمي خليلزاد ورسره پر موقت حکومت بحثونه کړي دي. د دې تر څنګ ځينې هغه سياستوال چې موقت حکومت غواړي، په دوبۍ کې يې له خليلزاد سره کتلي او په دې اړه يې ورسره بحثونه کړي دي. دغه راز داسې خبرونه هم شته چې خليلزاد په دې تړاو له ځينو سياسي او جهادي مشرانو سره په ټيليفون هم خبري کړې دي. ويل کېږي چې خليلزاد دري طرحې له سياستوالو سره شريکې کړې دي. يوه دا چې طالبان د حکومت برخه شي، دويمه دا چې حکومت د طالبانو برخه شي او دريېم همدا موقت حکومت. له دې وړانديزه واضح ښکاري چې لومړۍ دوې طرحې غير عملي دي او د خليلزاد اصلي موخه هم يوازې دريېمه طرحه ده.

ښکاري چې امريکايان د موقت حکومت په طرحه کې جدي دي چې ښايي د سرپرست يا د سولې د حکومت نوم ورکړل شي. ولسمشر غني له دې حکومت سره يو مخ مخالفت کوي او وايي چې واک به يوازې نوي ټاکل شوي ولسمشر ته سپاري. اوس مهمه خبره دا ده چې معقوله لاره څه ده؟ ايا موقت حکومت بايد يو مخ رد شي؟ ايا رښتيا هم سمه لاره همدا ده چې واک څلور کاله وروسته نوي ټاکل شوي ولسمشر ته ولېږدول شي؟ او که بله کومه معقوله، عملي او سمه لاره هم شته؟ څه چې ولسمشر غني وايي، هغه نه عملي دي او نه هم په دې ډول سوله راتللی شي، ځکه چې لانجه پر واک ده او که واک څلور کاله نور هم له اشرف غني سره وي، نو څلور کاله نوره هم سوله ناممکنه ده. دا نه ورسره طالبان مني، نه بهرنيان او نه هم نور افغانان. اوس که غني پر خپل دريځ ټينګار کوي، نو هم سولې ته زيان اوړي او هم به ښايي ونه توانېږي چې دا کار وکړلی شي.

د موقت حکومت بحث له دوو اړخونو مهم دی؛ لومړی دا چې که حکومت او طالبان پر يوه نوي نظام هوکړه کوي، نو هغه نظام ته د تګ لپاره په طبيعي ډول يو عبوري حکومت ته اړتيا ده. دويم دا چې که امريکا د موقت حکومت غوښتنه کوي، نو معلومه ده چې له طالبانو، ګاونډيو هېوادونو او نورو اړخونو سره به يې هم شريکه کړې وي او په کور دننه يې هم دا دی ځينې سياستوال ملاتړ کوي او دا ملاتړ به لا پسې پراخ شي. اوس داسې ښکاري چې د امريکا دا طرحه به عملي کېږي او پر وړاندې به يې غني او څو ملګري يوازې پاتې کېږي.

که امريکا په دې طرحه کې رښتيا هم جدي وي، نو اشرف غني يې پر وړاندې نه شي دريدلی، نو د دريدلو پر ځای پکار ده چې دا موقت حکومت چې په هر نوم وي، بايد داسې جوړ او ډيزاين شي چې د سولې له پروسې سره مرسته وکړي، بريالی يې کړي او يو دايمي او با ثباته نظام ته لاره هواره کړي. معقوله لاره دا ده چې د موقت حکومت ټول اړخونه بايد مطالعه شي، زيانونه يې بايد تر ممکنه حده را کم شي او مثبت اړخونه يې بايد پياوړي شي، څو هم د سولې له پروسې سره مرسته وکړي او هم يو مثبت بدلون ته لاره هواره کړي. له دې پرته وچ او يو مخ مخالفت به هم بريالی نه وي او هم به د سولې پروسې ته زيان واړوي.

# حاشیه های جنگ قره باغ

منبع: تروجن
نوشته: مایک کلارک
مترجم: سید جمال اخگر

سال گذشته بام آذربایجان پس از آن‌که از جنگ ۴۴ روزه‌اش با ارمنستان بر سر کنترل منطقه محصور ناگورنو-قره‌باغ، پیروز میدان بیرون آمد، به‌طور قابل‌توجهی بزرگ‌تر شد.

آذربایجان و ارمنستان در ارتفاعات به‌لحاظ استراتیژیک مهم قفقاز واقع شده‌اند؛ منطقه‌ای که روسیه، ترکیه و ایران در آن باهم روبه‌رو می‌شوند. ناگورنو- قره‌باغ ولایتی است که نامش مصداق منافع درهم‌تنیده کشورهایی می‌باشد که دیریست بر سر کنترل و نفوذ برآن باهم رقابت می‌کنند. ناگورنو- قره‌باغ نامی است که از ترکیب واژه‌های اسلاوی، ترکی و فارسی به وجود آمده. و گرچه آذربایجان مطمئناً ذینفع اصلی کارزار موفقیت‌آمیز برای بازپس‌گیری سرزمینی است که در جنگ اول قره‌باغ در دهه ۱۹۹۰ از دست داده بودش، اما ناظران می‌پرسند که جنگ اخیر برسر این قلمرو، بیشتر به نفع کدام یک از قدرت‌های خارج از منطقه قفقاز ختم شد ؟

ارمنستان با تسلیم‌شدن در ۹ نوامبر آشکارا در جایگاه بازنده‌ی این درگیری قرار گرفت. وقتی نیروهای آذربایجانی کنترل شهر بزرگ «شوشا» را در قلب قره‌باغ به‌دست گرفتند، ولادیمیر پوتین، رئیس‌جمهور روسیه از نفوذ خویش بر حکومت آذربایجان و ارمنستان استفاده کرد تا معامله‌ای را سامان دهد که منجر به توقف تهاجم آذربایجان و واگذاری کنترل تکه‌ی کوچکی از این منطقه به ارمن‌ها شد. در نتیجه ارمنستان مجبور شد نه‌تنها از ادعای خود بر مناطقی که در جریان این درگیری از دست داد، بلکه از ادعای خود بر چندین ناحیه دیگر آذربایجان که قره‌باغ را احاطه کرده و ارمنستانی‌ها از سال ۱۹۹۴ کنترل آن‌هارا به دست داشتند، نیز دست بکشد. این ناحیه‌ها در قلب نارضایتی آذربایجان از ارمنستان قرار داشت، زیرا در دوره شوروی برخلاف منطقه قره‌باغ که هم در آن‌زمان و هم اکنون اکثر ساکنان آن ارمن‌ها هستند، ساکنان این نواحی اکثراً آذری‌ها بودند.

آذربایجان چگونه توانست در نبردی دشوار و خونین که در آن سربازانش باید سنگری مستحکم و کوهستانی را فتح می‌کردند، این قدر نفع ببرد؟ آذربایجان در جنگ اخیر قره‌باغ عمدتاً از طرف متحد قدرت‌مند خود، ترکیه، کمک می‌شد. آنکارا که سال‌هاست جنگی را در سوریه پیش می‌برد، مشاوران نظامی باتجربه خود را برای هدایت ماشین جنگی باکو به منطقه اعزام کرد. ماشین جنگی باکو سال‌هاست با سلاح‌های مدرن به ارزش میلیاردها دالر پول نفت دریای خزر، تجهیز و تقویت می‌شود.

الهام علی‌اف، رئیس‌جمهور آذربایجان و رجب طیب اردوغان، رئیس‌جمهور ترکیه، در ماه دسامبر سال گذشته در رژه‌ی پیروزی در باکو که در آن ارتش آذربایجان وسایل نقلیه نظامی تخریب‌شده، ارمنی‌ها در میدان جنگ را در میدان اصلی شهر برای تماشای عموم با طناب می‌کشیدند، شرکت داشتند. پس از این نمایش ناخوشایند، دو رهبر برای شرکت در یک کنفرانس مطبوعاتی حاضر شدند. در این کنفرانس علی‌اف نقشی را که تجهیزات و فناوری ترکیه در به پیروزی‌رساندن آذربایجان داشت، برای مردم خود برجسته کرد. او با اشاره به هواپیماهای بدون سرنشین که قبلاً توسط ترکیه در کارزارهای نظامی اردوغان در سوریه استفاده می‌شد و دیری‌ست علیه شورشیان کُرد در شرق ترکیه به کار برده می‌شود، گفت: «بایراکتار معروف که توسط صنایع دفاعی ترکیه ساخته شده است، تغییردهنده بازی بود و نقش مهمی در موفقیت ما داشت.»

استفاده از هواپیماهای بدون سرنشین ساخت ترکیه در جنگ قره‌باغ، باعث برگشتن ورق به نفع آذربایجان در میدانی شد که در آن دو ملت- دولت در برابر هم قرار گرفته بودند. بایراکتار به همراه سیار هواپیماهای بدون سرنشین که آذربایجان در سال‌های اخیر خریداریش کرده است، برتری ارمنستان را که در موقعیت بالادست در میدان جنگ قرار داشت، از بین برد. واضح است که یک هواپیمای بدون سرنشین می‌تواند بالاتر از مرتفع‌ترین کوه‌ها پرواز کند. صدای این هواپیماها به تنهایی خود برای ایجاد وحشت کافی است. من آن‌را هنگام تهیه گزارش برای PBS NewsHour از خیابان‌های «استپاناکرت» تحت کنترل ارمنستان در ماه اکتوبر تجربه کردم. با به صدادرآمدن موتور هواپیمای بدون سرنشین در آسمان بالای سر مان، ما مجبور شدیم که مصاحبه‌ی مان را کوتاه کنیم و فرد مصاحبه‌شونده را که دچار کم‌بینایی بود، به سمت گاراج قبلاً بمب‌گذاری‌شده که در آن محیط از امنیت نسبی برخوردار بود، هدایت کنیم. تأثیر پرواز هواپیمای بدون سرنشین در آسمان بالای سر مان حتا بدون این‌که دست به حمله‌ای ببرد، بی‌حس‌کننده بود.

ترکیه با تمام کمک‌های تعیین‌کننده‌ای که برای نیروهای آذربایجان ارائه کرد، حضور فیزیکی خود را در منطقه گسترش نداد. این درحالی بود که فقط یک هفته پس از اعلام آتش‌بس بین دو طرف درگیر، اردوغان خطاب به پارلمان ترکیه اعلام کرد که نیروهای حافظ صلح (صلح‌بانان) ترکیه در راه قره‌باغ اند. تصمیمی که هرگز عملی نشد. در واقع این ترکیه نیست که حضور خود را در منطقه قفقاز افزایش داده است، روسیه است؛ قدرتی که تا همین اواخر هم بر ارمنستان و هم بر آذربایجان حاکم بود و اتفاقاً تنها کشور تأمین‌کننده عمده اسلحه است که مقادیر زیادی جنگ‌افزار در جریان جنگ اخیر قره‌باغ به هر دو طرف فروخته است.

براساس توافق‌نامه‌ای که پوتین آن‌را سامان داد، قرار شد تا حدود ۲ هزار نیروی صلح‌بان روسی در مناطقی از قره‌باغ که هنوز ارامنه در آن زندگی می‌کنند، برای گشت‌زنی حضور یابند. هدف این نیروها ظاهراً محافظت از ارمنی‌ها در برابر خصومت نیروهای سرخوش [از پیروزی] آذربایجانی است که در ماه اکتوبر و نوامبر حدود یک- سوم قره‌باغ را مورد تاخت و تاز قرار دادند. بسیاری از این سربازان که مدت‌ها پس از پایان جنگ اول قره‌باغ متولد شده‌اند، در این جنگ اولین‌بار بود که با ارمنی‌ها روبه‌رو می‌شدند. هرچیزی که این سربازان در مورد این بیگانه‌ها می‌دانند، از پروپاگاندای دولتی سرچشمه می‌گیرد که در آن دولت آذربایجان، ارمنستان را دولتی فاشیست و ارمنی‌تباران را قاتلان خون‌خوار معرفی می‌کند. اکنون که به گذشته نگاه می‌کنیم، آنچه در جنگ قره‌باغ اتفاق افتاد تقریباً اجتناب‌ناپذیر بوده است. سربازان آن دسته از ارمنی‌هایی را که از فرط حماقت یا هم ناتوانی در خانه‌های خود مانده بودند، در برخی موارد، به معنای واقعی کلمه از دم تیغ گذراندند.

یک ویدیو که توسط گوشی همراه ضبط شده است و اعتبار آن مورد تأیید سازمان عفو بین‌الملل است، یک نظامی آذربایجانی را نشان می‌دهد که یک پیرمرد را درحالی که دست و پا می‌زند بر روی زمین نگه داشته و یک سرباز دیگر چاقویی را به دستش می‌دهد. پیرمرد به زبان آذری و با لهجه، خواهان ترحم می‌شود و به تکرار می‌گوید: «به خاطر خدا، التماس می‌کنم.» وقتی سرباز آذربایجانی شروع به بریدن گلوی این پیرمرد می‌کند، ویدیو ناگهان پایان می‌یابد. در ویدیویی دیگر، گروهی از سربازان آذربایجانی یک جوان را که پیراهنی به تن ندارد بر روی زمین محکم نگه داشته‌اند و سربازی دیگر با چاقو سرش را از تن جدا می‌کند. این کار او با هلهله‌ی بلند و کف‌زدن‌های جمعیت حاضر در محل روبه‌رو می‌شود.

پیروزی آذربایجان در جنگ اخیر قره‌باغ توپ را در میدان باکو قرار داده است تا اگر می‌خواهد در آنچه آن‌را جنگ میهن‌پرستانه برای آزادی توصیف کرده است، اخلاق زیرپا نشود، با جنایت‌کاران جنگی خود قاطعانه و سریع برخورد کند. اعلامیه اخیر دادستانی کل آذربایجان مبنی بر بازداشت چهار سرباز به جرم مثله‌کردن اجساد کشته‌شدگان ارمنی در جنگ و هتک حرمت به سنگ مزارهای ارمنی‌ها، تا زمانی که عاملان جنایات جدی‌تر آزاد باشند، ناکافیست و ره به جایی نمی‌برد.

–چرا این‌قدر ضرور است که آذربایجان جنایت‌کاران جنگی خود را مورد بازخواست قرار دهد؟

جدا از مسأله اخلاقی که از طرفین می‌طلبد حقوق بشر را در میدان جنگ رعایت کنند، علی‌اف می‌خواهد که جهان باور کند که او قصد دارد به‌طور عادلانه و به سود هر دو جانب آذری‌ها و ارمنی‌ها بر قره‌باغ و مناطق اطراف آن حکومت کند. او در یکی از سخنرانی‌های تلویزیونی خود چند ماه پیش گفت: «ما قره‌باغ را به عنوان یک منطقه مرفه، امن و امان آذربایجان می‌بینیم که در آن مردم در کنارهم در صلح و با عزت زندگی می‌کنند.»

این یک ادعا است و تا زمانی که به غیرنظامیان ارمنی‌تبار فراری اجازه بازگشت به مناطق‌شان داده نشود، به نظر گمراه‌کننده می‌رسد و جدی‌گرفتن آن دشوار می‌نماید. علاوه براین، تا زمانی که آذربایجان به نیروهای مسلح خود نشان نداده باشد که در صورت اعمال خشونت علیه نظامیان هیچ مصئونیتی نخواهند داشت، بعید است که غیرنظامیان ارمنی‌تبار بخواهند به مناطق‌شان برگردند. «راشل دنبر»، معاون سازمان دیدبان حقوق بشر، با صحبت درباره مقامات آذربایجان و ارمنستان گفت: «به عنوان یک بازدارنده حصول اطمینان از این‌که چنین جنایاتی تکرار نخواهد شد، ضروری است تا به نظامیان از اول تا آخر زنجیره فرماندهی این پیام رسانده شود که این نوع اقدامات غیرقابل تحمل است و عاملان آن به شدت مجازات می‌شوند.»

همه‌ی این موارد نشان می‌دهد که حضور نوعی نیروی صلح‌بان در منطقه قره‌باغ برای جلوگیری از آسیب بیشتر به غیرنظامیان ضروری است. این‌که چنین نقشی را روسیه به عهده گرفته است، بیان‌گر نفوذ فزاینده مسکو در قلمروهای سابقش است. حضور نیروهای روسیه در خاک آذربایجان نشان‌دهنده احیای حضور نظامی روسیه در هر سه جمهوری قفقاز جنوبی یعنی ارمنستان، آذربایجان و گرجستان، برای اولین‌بار پس از فروپاشی اتحاد جماهیر شوروی است. برای روسیه، دولتی که به دنبال گسترش نفوذش است، این یک پیروزی بزرگ به شمار می‌رود و ابزار فشار قدرت‌مندی است که مسکو می‌تواند از آن به نفع خود استفاده کند. روسیه دست‌کم برای پنج سال آینده نقش میان‌جی را بین ارمنستان و آذربایجان ایفا خواهد کرد و در این مدت هر دو کشور در هرگونه تصمیم‌گیری مهم در مورد قره‌باغ و فراتر از آن باید اول از مسکو نظر بخواهند. با این‌حال این حرف را نمی‌توان در مورد ترکیه زد؛ کشوری عضو ناتو که ۱۹۳ مایل مرز مشترک با ارمنستان دارد و با این‌که همکاری خود را با آذربایجان در جریان جنگ شدت بخشید، اما در ختم جنگ هیچ جایگاهی در منطقه قفقاز نصیبش نشد.

با این‌که آذربایجانی‌ها خوشحالند که قلمرو قابل‌توجهی دوباره تحت کنترل کشورشان درآمده است، اما برخی نگرانند که مبادا آذربایجان اشغال به‌دست ارمنستان را با حضور روسیه مبادله کرده باشد. النور علی‌اف، ساکن باکو شکایت می‌کند که «روسیه کشوری است که به ارمنستان کمک می‌کند. اگر ترکیه بیاید، بلی [شکایتی ندارم]. اما من حضور صلح‌بانان روسی را نمی‌پذیرم.» با این‌حال در رده‌های بالا مقامات آذربایجانی درباره دخالت روسیه دیپلوماتیک‌تر سخن می‌زنند. حکمت حاجی‌اف، دستیار ارشد رئیس‌جمهور علی‌اف در ماه نوامبر به من گفت: «در آذربایجان ما براساس یک مأموریت عملی حضور نیروهای روسیه را شاهدیم. این مأموریت برای حفظ صلح است. به معنای ایجاد پایگاه نظامی روسیه نیست.»

با این‌حال مقامات آذربایجانی درباره ارمنستان چنین دیپلوماسی را از خود به نمایش نمی‌گذارند. برای مثال، حاجی‌اف گفت که ارمنستان خودش باید درباره ادعاهای جنایت جنگی مانند بریده‌شدن گلوی مرزبان آذربایجانی به دست نیروهای ارمنی که در عین گزارش عفو بین‌الملل مستند شده است، تحقیق کند. این کار درحال حاضر با توجه به شرایط آشفته ارمنستان که مردمش به خاطر شکست خوردن در جنگ و از دست دادن قلمرو به دنبال مقصر می‌گردند، بعید به نظر می‌رسد.

اوضاع در باکو اما بسیار متفاوت است. با نفع سیاسی‌ای که در نتیجه این جنگ به علی‌اف رسیده است، دولت وی به‌راحتی می‌تواند در برابر واکنش‌هایی که بدون شک مجازات شدید زندان برای نظامیان مجرم، برای دولت به دنبال خواهد داشت، جان سالم به‌در ببرد.

باید دید که آیا آذربایجان افرادی را که ادعا می‌شود مسئول کشتار غیرنظامیان و اسیران جنگی هستند، مورد بازخواست قرار خواهد داد یا خیر. با این‌که امکان دارد درحال حاضر باکو بیشتر به برگزاری رژه‌های پیروزی علاقه‌مند باشد، اما هنوز برف زیادی برای رُفتن از بالای بامش دارد. و صرف‌نظر از حضور صلح‌بانان روسی در منطقه، بدون یک روند آشتی قوی، بعید است که جوامع ارمنی و آذری بتوانند در کنار یک دیگر زندگی کنند یا هم صلح کنونی دوام بیاورد.

# راه لاجورد و فرصت های آن

ذبیح الله ابوی

افغانستان بعد از معاهده دیورند مطلقاً محاط به خشکه گردید جز متکی بودن به کشورهای همسایه راه وصل منطقه یی وجود نداشت تاانکه در این اواخر راه لاجورد به ابتکار افغانستان طرح و با کشور های ذیدخل در میان گذاشته شد که منحیث یک طرح کاملاً افغانی با کشورهای (ترکمنستان، ترکیه، گرجستان وشرکت سهامی راه اهن اذربایجان) درجریان و ازطرف جامعه کشورهای منطقه ی مورد استقبال گرم قرارگرفت واولین نشست برای طرح موافقتنامه همکاریهای پنجگانه به تاریخ ۲۴ عقرب ۱۳۹۳ در وزارت امور خارخه ترکمنستان دایر گردید.

**جیوپولیتیک افغانستان**

افغانستان از منظره جیوپولیتیکی به عنوان پل خشکه‌ی منطقه‌ای و کانون وصل جنوب اسیا به اسیای میانه و برعکس ان تا شرق میانه و شرق دور است پس از سقوط حکومت طالبان هژمون های جهانی و منطقه‌ی بر موقعیت جغرافیایی افغانستان نگاهی خیره کننده‌ی انداختند که از جمله هند که به عنوان هژمون منطقه‌ی سر بلند نموده و خواهان گسترش روابط سیاسی، اقتصادی و امنیتی با قلب اسیا است و در سطح جهانی ایالات متحده امریکا بر موقعیت سیاسی و نظامی افغانستان نگاهی طولانی داشته است که بعد از حادثه ی ۱۱ سپتمبر رویا دسترسی ایالات متحده بر افغانستان و تحت تاثیر قرار دادند هژمون های منطقه‌ی (چین روسیه هند ) به واقعیت مبدل گردید. از موضوعات خارج از مقاله میگذریم حالا راه لاجورد به کجا میرسد موضوع خویش را ادامه میدهیم؟

**راه لاجورد به کجا میرسد؟**

راه لاجورد قدیمترین راه با بیش از دوهزار سال قدامت تاریخی که همان راه ابرشیم بوده که سایر سنگ های قیمتی مخصوصا سنگهای لاجورد بدخشان به اروپا ، قفقاز، روسیه و شمال افریقا میرسید که به دلیل انتقال سنگ لاجورد از راه ابرشیم به مرور زمانی راه لاجورد تغیرنام داده شد. راه لاجورد اکنون از بنادر اقینه ولایت فاریاب و تورغندی ولایت هرات از افغانستان شروع شده از مسیر بندر ترکمن باشی کشور ترکمنستان باکو اذربایجان و به منطقه تفلیس گرجستان به دریایی سیاه و باعبور ترکیه افغانستان را به اب های اروپا وصل میکند .

راه لاجورد بر کشور همچو افغانستان فرصت طلای بشمار میرود که میتوان هر حرکت اقتصادی و ارتباطی که بر منافع افغانستان باشد استفاده کند. پس لازم است که منافع راه لاجورد بر افغانستان را بیان داریم.

**ابعاد مفیده راه لاجورد**

اول- بُعد تجارتی و زمانی: افغانستان از جمله کشور های جهان سوم محسوب میگردد که اقتصاد داخلی ان بیشتر متکی به کمک های جهانی است پس برای بیرون رفت از متکی بودن از فرصت ها و طرح های اقتصادی و ارتباطی همچو راه لاجورد استفاده عظیم کرد و ارزیابی ها نشان داده است که از طریق راه لاجورد اموال تجارتی چهار روز زودتر از سایر راه های ترانزیتی به اروپا وصل و مصرف انتقال ان نیز یک الی دو هزار دالر در هر موتر باربری ارزنتر تمام میشود این در حال است که انتقال اموال نسبت به بنادر پاکستان بسیار کمتر و از لحاظ زمانی نیز کوتاه تر خواهد بود.

دوم- بُعد بازاریابی بر محصولات و ارزانی واردات: تولید کننده کان داخلی میتوانند به بازار های جهانی اشنایی پیدا کنند و برای محصولاتی افغانی در خارج از کشور بازار های بیشتر و روابط تجاری بیشتر با تاجران کشور های مربوطه راه لاجورد و اروپا به اتفاق برسند و برعکس ان فرصت خوبی بر ارزانی کالاهای با کیفیت کشورهای مربوطه راه لاجورد و اروپا بر مردم افغانستان مساعد خواهد شد.

سوم- بُعد گمرکی و ترانزیتی: کشورهای هم پیمان راه لاجورد موانع های گمرکی و ترانزیتی را براموال یکدیگر طبق مفاد توافقنامه برداشته است و موترهای باربری کشور های عضو میتوانند بدون موانع گمرکی داخل خاک کشورهای عضو شوند .

چهارم- بُعد وصل به بحر: افغانستان رویا وصل شدن را به ابحار بر سر دارد با بیشتر عضو شدند کشور های منطقه در راه لاجورد. افغانستان فرصت بیشتر به رسیدن به رویا وصل خویش به ابحار جهانی توسعه اقتصادی و تجارتی خواهد داشت.

پنجم- بُعد سیاسی: افغانستان کشوریکه بیشتر از چهار دهه با بدبختی های متقابل بوده است هر اندازه ی که افغانستان راه جهانی شدند را یابد به همان انداره از متکی شدن به کشورهای همسایه بیرون خواهد شد و تعاملات جهانی را با کشورهای منطقه یی با سیاست های مدرن بر امنیت و تجارت از انجمله ترکمنستان که یکی از کشور های تولید کننده بزرگ گاز در جهان شمرده میشود تجربه خواهد کرد .

افغانستان در برقراری و اعتماد سازی با ملل اسیای میانه میتواند اینده درخشان منطقه را رقم زند و جهان را متعقین سازد که افغانستان کشور در حال توسعه و سرزمین وصل کننده ی منطقه ی بوده که قربانی تروریزم جهانی شده است.

# د موقت حکومت په لټه کې؛

## خلیلزاد پر سوله د خبرو لپاره افغان سیاسیون دوبۍ ته وربللي دي



په دوحه کې له بین الافغاني خبرو سره هممهاله د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد د راتلونکي حکومت په اړه له افغان سیاسیونو سره سلا مشورې پیل کړې دي. رسنیو ته باوري سرچینو ویلي چې زلمي خلیلزاد ځینې مهمې سیاسي څېرې دوبۍ ته وربللې دي او له ځینو سره یې ټلیفوني خبرې کړې او له دوی سره په خبرو کې یې د راتلونکي حکومت پر جوړښت بحث کړی دی.

د هېواد سیاسي څېرو او ګوندونو ته نږدې افراد بیا وایي چې خلیلزاد د موقت حکومت د جوړولو پیغام له ځان سره لري او غواړي له دې لارې جګړه ختمه کړي.

په دوحه کې د دویم پړاو مذاکراتو له پیل سره سم زلمي خلیلزاد پاکستان او افغانستان ته سفر درلود. په کابل کې یې له ګڼو سیاسي څېرو سره ولیدل او له دوی سره یې د سولې پر اړوندو مسایلو خبرې کړې دي. سیاسي کړیو او شخصیتونو ته نږدې کسان وایي چې خلیلزاد له ځان سره درې طرحې راوړې وې. لومړۍ طرحه یې دا وه چې طالبان به له حکومت سره یوځای کېږي، دویمه دا چې حکومت به له طالبانو سره په ګډه یو حکومت جوړوي او درېیمه دا چې یو موقت حکومت به جوړېږي. پخواني ولسمشر حامد کرزي ته نږدې کس ګل الرحمان قاضي رسنیو ته ویلي چې خلیلزاد له یادو دریو طرحو سره کابل ته راغلی و، خو دوې لومړۍ یې د افغانانو او نړیوالې ټولنې لپاره د منلو نه دي. د ده په وینا: ((درې انتخابه وو. یو دا چې همدا اوسنی حکومت دې وي او طالبان به ورسره یو ځای کېږي. دویمه طرحه دا وه چې حکومت به له طالبانو سره یو ځای کېږي دا دواړه طرحې افغانستان او نړیوالې ټولنې ته منلو نه دي او درېیمه طرحه هم د موقت حکومت وه)).

پخواني جهادي مشر عبدالرب رسول سیاف ته نږدې کسان هم وایي چې خلیلزاد د راتلونکي حکومت او نظام په اړه پیغام له ځان سره درلود. استاد سیاف ته نږدې کس میرویس غیاثي ویلي: ((ښاغلي خلیلزاد د هېواد له ځینو سیاسیونو سره ځینې مسایل مطرحه کړي دي، د راتلونکي نظام په اړه وو)).

له دې سره جوخت باوري سرچینې وایي چې زلمي خلیلزاد په دوبۍ کې له ځینو سیاسي شخصیتونو سره په جلا جلا توګه کتلي دي او ښایي د راتلونکي حکومت په اړه یې خبرې ورسره کړې دي. دغه سرچینې کابل نیوز ته ویلي چې د جمعیت اسلامي ګوند رییس صلاح الدین رباني، د همدې ګوند اجرایوي رییس عطا محمد نور او د پخواني ولسمشر لومړی مرستیال یونس قانوني دوبۍ ته تللي وو او خلیلزاد له دوحې د دوی لیدو ته دوبۍ ته راغلی و. خلیلزاد له دوی سره په جلا جلا توګه کتلي او د سولې د راتلونکو مسایلو په اړه یې خبرې ورسره کړې دي. همدا راز ویل کېږي چې له ګلبدین حکمتیار سره یې هم په همدې تړاو ټلیفوني خبرې کړې دي.


د موقت حکومت په اړه د زلمي خلیلزاد هڅې داسې مهال دي چې په دې وروستیو ورځو کې ولسمشر غني او شاوخوا کسان یې د موقت حکومت د جوړېدو مخالفت کوي. ولسمشر غني څو ورځې وړاندې له سي ان ان سره په یوه مرکه کې ویلي وو چې واک یوازې د ټاکنو له لارې راتلونکي ولسمشر ته پرېږدي. د ده په خبره، جمهوریت به ساتي او تر هغه به واک بل چا ته پرې نه ږدي چې راتلونکی ولسمشر د خلکو په رایه نه وي راغلی. هغه په دې توګه د موقت حکومت مخالفت کړی دی.

د ولسمشر دویم مرستیال سرور دانش هم په خپلو وروستیو څرګندونو کې ویلي وو چې افغانستان یو مستقل او پیاوړی نظام لري، نو د دې اړتیا نشته چې موقت حکومت دې جوړ شي. د ده په خبره: ((موقت حکومت داسې مهال جوړېږي چې له یوې بې نظامه حالته یوه نظام لرونکي حالت ته ورځو، خو موږ داسې کوم څه ته اړتیا نه لرو)).

د راتلونکي حکومت په اړه بحثونه داسې مهال کېږي چې تر اوسه پورې د طالبانو او افغان حکومت ترمنځ پیل شوو مذاکراتو د جګړې پر ډګر اغېز نه دی لرلی او نه یې هم ملکي تلفات راکم کړي دي. برعکس جګړې ورځ تر بلې شدیدې شوې او دواړه لورې د سولې پر ځای د سختې جګړې ادبیات کاروي.

# په امریکا کې د واک پر سر کړکېچ؛

## اېف بي ای: ځینو کړیو پر کانګرېس او د ۵۰ ایالتونو پر مرکزونو د برید پلان جوړ کړی



امریکایي چارواکو د منتخب ولسمشر جو بایډن د لوړې مراسمو په درشل کې د ټول هېواد په کچه د نورو وسله والو اعتراضونو او کړکېچونو د احتمال په اړه خبرداری ورکړی.

د امریکا د تحقیقاتو فدرال ادارې په یوه بیان کې ویلي، چې د امریکا د ټولو ۵۰ ایالتونو په مرکزونو کې او په واشنګټن کې د کانګرېس پر ودانۍ د وسله والو اعتراضونو پلانونه جوړ شوي دي.

دا په داسې حال کې ده چې د امریکا له پلازمېنې واشنګټن ډي سي پرته، په ډېرو ایالتونو کې د وسلو ګرځول ازاد دي او قانوني ممانعت نه لري.

د امریکا د تحقیقاتو فدرالي ادارې یا اېف بي ای زیاته کړې، چې دا اعتراضونه ښایي د رواني جنوري د ۱٦مې او ۲۰مې ترمنځ ورځو کې وشي. د جو بایډن د لوړې مراسمو په درشل کې د وسله والو اعتراضونو دغه خبرداری داسې مهال ورکول کېږي، چې تېره اونۍ د کانګرېس پر ودانۍ تر برید وروسته په واشنګټن ډي سي کې او د کانګرېس د ودانۍ لپاره امنیتي تدابیر سخت شوي دي. تېره اونۍ د کانګرېس پر ودانۍ د ولسمشر ټرمپ د پلویانو د برید په پایله کې پنځه کسان ووژل شول.

اېف بي ای دغه راز دا معلومات هم ترلاسه کړي چې یوه ډله له خپلو پلویانو غواړي چې که ټرمپ د خپلې دورې تر ختمېدو مخکې له واکه لېرې شي، په دولتي، ایالتي او فدرالي محکمو او اداري ودانیو باندې بریدونه وکړي.

بلخوا که د امریکا مرستیال ولسمشر مایک پېنس او کابینه د اساسي قانون له ۲۵ تعدیل څخه چې پر اساس یې کولای شي ټرمپ د ولسمشرۍ لپاره نامناسب وبولي او له دندې یې لېرې کړي، کار وانخلي، د امریکا د استازو جرګه چې ډیموکراټان پکې اکثریت دي، هڅې کوي چې روانه اونۍ نوموړی استیضاح کړي. ټرمپ د امریکا د کانګرېس پر ودانۍ د تېرې اونۍ له برید وروسته د لومړي ځل لپاره له خپل مرستیال مایک پېنس سره کتلي دي. له دې کتنې داسې برېښي چې ټرمپ به د کانګرېس له خوا د ده د لېرې کولو یا استعفی ته د اړ ایستلو له هڅو سره، خپله د ولسمشرۍ دوره بشپړه کړي. بلخوا ځینو امریکایي چارواکو رسنیو ته ویلي، چې ټرمپ او پېنس رغنده بحثونه کړي دي.

دوی زیاتوي، پېنس دا نیت نه لري چې د ډیموکراتانو د غوښتنې له مخې ټرمپ د اساسي قانون د ۲۵ تعدیل په اساس د ولسمشرۍ لپاره نامناسب وبولي او له دندې یې لېرې کړي.


د چارواکو په وینا، په خپله ټرمپ هم د جنوري په ۲۰مه د ولسمشرۍ د دورې د پای ته رسېدو تر وخته له واکه د لاس اخیستو پلان نه لري، خو ټرمپ ویلي، چې د بایډن د لوړې په مراسمو کې به ګډون ونه کړي.

## د کتاب خبرې

# د جاسوسۍ پېښلړ RAW, ISI او د سولې وهم

◎ ليکوالان: اې. اېس دولت، اسدوراني او ادیتيا سينها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

## څلورمه برخه
کابوکي



سپنها: داسې ښکاري چې تاسې پر خپلې سياسي رهبرۍ هم بدبينه ياست؟
دوراني: زما په باور د هند - پاکستان اړيکې تر بل هر وخت د جنرال ضياءالحق په وخت کې ښې لوبېدلې.
دولت: زموږ له کوم لومړي وزير سره؟
دوراني: راجيو ګاندي
ضيا په لوبېدڅه پوله کې له ستونزو سر مخ و. ځکه نو ده ته معلومه وه چې بايد ختيځه پوله ارامه وساتل شي. سړی ارمان کوي چې زموږ لومړيو وزيرانو دغه چلند خپل کړی وای. مشرف ښه نظريه درلوده خو بې حوصلې و.
د يوري تر پېښو وروسته د «اوټ لوک» يو خبريال زنګ را وواهه، له ما يې پوښتنه وکړه چې څه به کېږي؟ ما ورته وويل: «نواز شريف به د حسنه روابطو د جوړولو هڅه کوي. خو... مودي به ورته موقع ور نه کړي.»
دولت صېب د رهبرۍ په تړاو په زړه پورې خبره کوي، چا چې په پيل کې څه و نه کړل، نو بېخي يې کولای نه شي. مياشت له اولې ورځې معلومېږي. زما په ټوله کې له سياستوالو سره نه لګېږي، په وروستيو شېبو کې به د خپل نوم لپاره يو شی وړاندې کړي چې هېڅ امکان يې نه وي. دا به نو هغه طرحه وي چې دوی وړاندې کوله، خو وړاندې يې نه شوه کړای، مطلب يې دا وي چې ښه تاريخ پرېږدي او په لويو مشرانو کې وشمېرل شي.
نواز شريف په پنځو کلونو کې له ايران سره د پايپ لاين د لاسليکولو جرئت نه شو کولای. هېڅ نړيوال قانون يې هم مخه نه نيوله. د ده د دورې د ختمېدو چې په شمار ورځې پاتې شوې، دغه تړون يې لاسليک کړ. په قوي احتمال چې د راتلونکي لپاره، خو خلک هم ډوډۍ خولې ته وړي.
که منموهن سېنګ دا خبره وکړي چې له پاکستان سره تقريباً يوې هوکړې ته رسېدلی و، نو دی پر حقه دی. ما ته منموهن سېنګ پاک او اغېزناک سړی ښکاري. زه په ۱۹۹۰ کال کې له «MI» څخه «ISI» ته راغلم. هند ته مې چې کتل، نو اقتصاد يې مخ پر ځوړ روان و، د ونډو بازار تړل شوی و. د هند غوندې يو لوی هېواد له کاره لوېدلی و. پر موږ نو ډېر وخت وروسته د خوشالۍ اختر راغلی و.
سپنها: دوی د هند بدبختي نمانځله.
دوراني: زما تر ګومارل کېدو لږ وخت وروسته ټاکنې وشوې. ناراسيما راو، منموهن سېنګ د ماليې وزير وټاکه، د هند حالت واوښت. اتفاقاً دغه وخت زموږ بېړۍ واوښته، يو نوی ډيموکراټيک حکومت واک ته ورسېد، دې حکومت له تېرو درېيو لسيزو راهيسې را روان «GDP» اقتصادي پرمختګ چې په کال کې ٦ سلنه يا تر دې زيات و، و نه شو ساتلی. سياسيون بس دې ته خوشاله وو چې بلاخره واک ته ورسېدل او خپل سياستونه عملي کولای شي.
د بېنظير بوټو په تړاو ما فکر کاوه چې د حکومتولۍ تجربه نه لري او نه پوهېږي چې چارې څنګه پر مخ يوسي؟ نو ځکه يې پالېسۍ (سياستونه) ناکامېږي. بيا ورپسې ميا صېب راغی، د ده سياستونو هم د بېنظيرې تر هغې کمې فاجعې و نه زېږولې.يوه خبره وه چې د ده په ټيم کې يو څه تجربه کار خلک هم وو، ځکه خو يې اقتصاد نوکی باثباته کړ. خو د ده سياسي حکومت، چې د ده تر يو څو اقتصادي اصلاحاتو يې ډېر ارزښت درلود، له يوې مخې ناکام و.
سپنها: ايا داسې خو نه ده چې سياستوال تر ملي ګټو، خپل نوم جوړولو ته ډېر ارزښت ورکوي؟
دوراني: په اوږدمهال کې د ملي ګټو لپاره بايد هغه کارونه وشي چې موږ يې وايو، يا هغه چې دولت صېب وايي. خو د لنډ وخت لپاره، د دويمې دورې يا نوم ايستلو لپاره دوی ځانونو ته کامياب کارونه کړي، يوازې ځانونو ته.
په لويه کې زه له واجپای، برجېش ميشرا او امرجيت سېنګ دولت غوندې کسانو سره موافق يم. دوی په سمه لاره روان وو، دوی پر خپله خبره ولاړ و. خو که حکومت بدل شي او تر خپلې خبرې واوړي، نو بيا به څه کېږي؟ د پاکستان پوځ په ډېرو شيانو کې ملامت دی، خو ځينې کارونه يې د زړه له تله کړي او لرليد يې درلود.
مثلاً که په ۱۹۸۵ کال کې ملکي حکومت ته د واک سپارلو خبره وکړو چې بېنظيرې، نواز شريف يا کومې بلې ډلې به جوړاوه. دوی ته وويل شول چې نوی جمهوريت جوړ شو، اوس نو واک تاسو ته سپارل شوی، سياست ستاسو کار دی، خو لطفاً مهمې پرېکړې له اپوزېسيون سره په ګډه کوی. زه د دې خبرو عيني شاهد يم. که تاسو پنځه سلنه وړاندې لاړ شئ، يا په يوه مسئله کې پرمختګ وکړی، بيا اپوزېسيون واک ته ورسېږي او په بله روان شي، يا دوی ستاسو خبرې پرېږدي، نو دا بيا يوه ستونزه ده.
يو ملکي حکومت هم دې ته تيار نه و چې اپوزېسيون له ځان سره په ځينو اجنډاوو کې شريک کړي او لږ تر لږه په مهمو مسايلو کې يې موافقه هم واخلي.
**دوام لري...**

# داسې ژوند وکړئ

اکسوس کتابپلورنځی



ډېر خلک ژوندي دي؛ خو لږ خلک په رښتيني مانا ژوند کوي، دا چې يوازې ساه يې په وجود کې ده، هغوی يوازې ژوندي دي؛ خو هغه چې خوشاله او نېکمرغه دي، هغوی په رښتيني مانا ژوند کوي. زموږ لويه ستونزه دا ده چې تل هڅه کوو څو يوازې ژوندي واوسو، خو د دې لپاره چې ښه ژوند وکړو، هېڅ کار نه کوو. دا سمه ده چې په ژوند کې هسکې ټيټې شته، خو دا هم غلطه نه ده چې وايي: «هره ستونزه حل لري». موږ بايد خپلې ستونزې حل کړو، څو خوشاله ژوند وکړو. خوشاله او نېکمرغه ژوند د هر چا مُسلم حق دی، هر څوک بايد ښه ژوند وکړي.
سيسرو وايي: «که غواړی اوږد عمر ولری، نو خوشاله ژوند وکړئ». دا چې خوښي په ژوند کې دومره مهمه ده، نو بيا څنګه کولی شو خوشاله او نېکمرغه ژوند وکړو؟ دا پوښتنه مو د دغه کتاب په لوستلو سره ځوابېږي. په دغه کتاب کې وړې، لنډې او اغېزناکې لارې چارې دي چې په عملي کولو سره يې کولی شو خوشاله او بريالی ژوند وکړو. په کتاب کې لنډې او اغېزناکې جملې له ۲۰ زياتو کتابونو او د انټرنېټ له بېلابېلو معتبرو سرچينو را ژباړل شوې دي. په هره جمله کې ډېر رازونه او خبرې دي، په لنډو ټکو کې موږ ته ډېر څه وايي او هغه څه راسره شريکوي، چې زموږ لپاره اړين دي.
وايي، ژوند دومره اوږد نه دی چې موږ پکې هرڅه تجربه کړو، موږ بايد ډېر وخت د نورو له تجربو او هغو پايلو څخه ګټه واخلو، چې نور يې له خپلو تجربو موږ ته بيانوي. دا کتاب دې همداسې تجربو يوه کوچنۍ ټولګه ده، چې حسيب نورمل راټولې کړې دي.
مينه وال کولای شي ياد کتاب له اکسوس او د ښار له نورو لويو کتابپلورنځيو په مناسب قيمت تر لاسه کړي.

## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

| شمېره | د کتاب نوم | ليکوال / ژباړن | بيه |
|---|---|---|---|
| ۱ | څلورم نفر (پوليسي ناول) | امير عشيري/عبدالجبار فراز | ۲۲۰ؒ |
| ۲ | د مينې څلوېښت اصول | ايلف شافاک/ميراحمد ياد | ۲۸۰ؒ |
| ۳ | د مينې پنځه ژبې | ګاري چاپمن/نصيراحمد نظري | ۱۳۰ؒ |
| ٤ | د جګړې هنر | سان تزو/محمد عاشق يعقوب | ۱۰۰ؒ |
| ۵ | پيغمبر | جبران خليل جبران/زينب سالک | ۷۰ؒ |
| ٦ | بې پيلوټه | مټ مارټين | ۲۵۰ؒ |
| ۷ | مثنوي معنوي | مولانا جلال الدين محمد بلخي/زهير بلخي | ٤۰۰ؒ |
| ۸ | د تاريخ ننداره | مبارک علي/اسدالله غضنفر | ۱۵۰ؒ |
| ۹ | نړيوالې اړيکې او د سولې ډيپلوماسي | رضا سيمبر، ارسلان قرباني شيخ نيشين/ننګيال احمدي | ۲۸۰ؒ |
| ۱۰ | ژوند وکړئ | مهاتريا را/طارق نجيب | ۸۰ؒ |
| ۱۱ | صدای زن | فرشته فرامرز | ۸۰ؒ |
| ۱۲ | ايمان پلورونکي لومړی، دويم او دريم ټوک | عنايت الله التمش/عبدالواسع صابر | ۳۲۰ؒ |
| ۱۳ | ستونزې مو حل کړئ | عائض القرني/جمال الدين صالح | ۲۳۰ؒ |
| ۱٤ | سپېڅلې نبوي سيرت | صفي الرحمان مبارکپوري/سلطان محمود صلاح | ۳۵۰ؒ |
| ۱۵ | اور په افغانستان کې | ريه تالی ستيوارت/عبدالحسيب حکيمي | ۳۰۰ؒ |
| ۱٦ | راز | رونډا باين/محمد عيسی ستانکزی | ۱۳۰ؒ |
| ۱۷ | لطفاً ګوسفند نباشيد! | محمود نامنی | ۱۵۰ؒ |
| ۱۸ | د ښوونې او روزنې ټولنپوهنه | محمود شارع پور/حبيب الله امرخيل | ۲۷۰ؒ |
| ۱۹ | له باران سره خبرې(شعري ټولګه) | محمد طاهر کاتب | ۷۰ؒ |
| ۲۰ | چرا شکست می خوريد؟ | آنا فالتن، مايکل دريسن/صوفيا نصرالهي | ۱۵۰ؒ |
| ۲۱ | د لفظونو شپون (نثري کليات) | سعدالدين شپون | ٦۵۰ؒ |
| ۲۲ | په کانو کې غمې (منظوم کليات) | سعدالدين شپون | ۳۰۰ؒ |
| ۲۳ | په شګو کې سره زر (داستاني کليات) | سعدالدين شپون | ٦۵۰ؒ |
| ۲٤ | خاينه ټلواله | تريتا پارسي/هدايت الله هميم | ۳۵۰ؒ |
| ۲۵ | سينوهه (د فرعون د ځانګړي طبيب يادښتونه) | ميکاولتاري/محمدعيسی ستانکزی | ۵۰۰ؒ |
| ۲٦ | مبانی سازمان و مديريت | خليل الرحمن سروری | ۳۵۰ؒ |
| ۲۷ | د بابا جان د کيسو خورجين | محمود مرهون | ۱۷۰ؒ |
| ۲۸ | How to Write a Business Plan | Mike Makeever | ۱۷۰ؒ |
| ۲۹ | Focus on Grammar | Anne Seaton | ۳۸۰ؒ |
| ۳۰ | داسې ژوند وکړئ | حسيب الرحمن نورمل | ۱۰۰ؒ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړيکه ونيسئ**

پته: دهبوريو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ اړيکه: 9696-98-0798 - 0202504652

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۱۰ |
| € | ۹۳,۵۰ |
| Rp. | ۴۷۹ |
| ₹ | ۱۰۴۵ |
| ¥ | ۱۰,۸۰ |
| £ | ۱۰۳ |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# پر ځان باور یا Self-Confidence

**یاسر تکل**

په ټولنه کې ډېر خلک وينو چې په لوړ موقف کې دي يا ډېر بريالي دي؛ خو برياليتوب او خپلو موخو ته رسېدل ډېر زحمت او د بېلابېلو لارو چارو استفاده کول غواړي، چې يوه مهمه او بنسټيزه لاره يې پر خپل ځان باور دی.

پر ځان باور يا ډاډمنتيا چې په انگليسي کې (Self-confidence) او فارسي ژبه کې (اعتماد بر نفس) بلل کيږي، په خپلو وړتياوو او ځانگړتياوو د يقين ساتلو احساس يا عقيدې ته وايي. مانا دا چې پر ځان باور تاسې ته ځواک در ببښي، څو يو کار په بشپړ ډول تر سره کړی. همدا ډول پر خپل ځان باور تاسو ته دا ځواک درکوي، چې فکر وکړی تاسو هغه څه تر لاسه کولای شی، چې په ژوند کې يې غواړی او يا يې په اړه فکر کوی.

د دې لپاره چې پر ځان مو باور پياوړی شي او يا هم پيدا شي، ځينې اصول شته چې بايد پلي شي. دلته به په څو هغو لارو چارو او اصولو وغږېږو، که په سم ډول عملي شي، مرسته به راسره وکړي څو پر ځان د باور لرونکي شخص په توگه خپلو موخو ته کار وکړو.

**۱ـ ځان ته په صادقانه نظر کتل**

غرور او پر ځان متکي توب او باور دوه بېل مفاهيم دي: غرور؛ د ځان په اړه لاپې وهل دي، خو پر ځان متکي توب او باور د کارونو د اجرا کولو لپاره پر خپلو وړتياوو باندې ستاسې اعتقاد او اعتماد دی. يا په بله وينا، اعتماد تر سخت کار کولو وروسته تر لاسه کيږي او ډاډمن کسان هم د خپلو ځانونو په اړه کافي پوهيږي. هرکله چې د اشخاصو د اعتماد کچه د دوی تر وړتياوو لوړه شي، تېروځي او د خودبينۍ احساس ورسره پيدا کيږي. ځکه نو بايد د دغو دوو مقولو ترمنځ پر توپير باندې وپوهېږو. پر ځان باور يو واقعي، حقيقي او عيني مفهوم دی.

اوس نو که غواړو چې پر ځان باور پياوړی کړو، بايد د خپل ځان او وړتياوو يوه دقيقه او صادقانه ارزونه مو کړې وي. که په مجموع کې د خپلو وړتياوو په اړه د کمزورۍ احساس کوی، لازمه ده چې د مهارتونو د لا ښه والي او کمزورو ټکو د له منځه وړلو لپاره لا ډېر کار وکړئ. د کمزورو ټکو په صرف نظرولو او يا پر خپلو قوي هغو فخر کولو سره، هېڅکله کمزوري ټکي له منځه نه ځي. بناً پر خپلو پياوړتياوو پوهېدنه مو په هغه گڼ مبښتي او رقابتي کارځای کې چې ستاسي ورسره سروکار دی، له ډېرو بې اساسو انتقادونو خلاصوي او په دغه ډول پر ځان لازم باور تر لاسه کوی.

**۲- مطالعه کول**

مونږ وينو چې مطالعه کول زمونږ او ستاسو په ټولنه کې په ډېره ټيټه درجه کې دي او ډېری کسان له مطالعې کولو سره دلچسپي نه لري.

خو هغه کسان چې زياته مطالعه کوي، هغوی به ډېر بريالي کسان وي، ځکه چې مطالعه کول نه يوازې ستاسو معلومات ډېروي؛ بلکې ستاسو باور هم زياتوي. کله چې ستاسو باور زيات شي، وروسته تاسې د هر کار پر وړاندې پياوړي کېږی، چې دا پياوړتيا تاسو ته برياوې در په برخه کوي. که غواړی چې تاسو هم د برياليو کسانو په شان په هر کار کې پرمختگ وکړی، نو د خپلو کړنو په اړه د برياليو کسانو ژوند مطالعه کړئ.

د برياليو کسانو ژوند مطالعه کول ستاسو باور زياتوي، چې دغه باور زياتېدل به ستاسو د هر کار په کولو کې مرسته وکړي. دا په ډاډ سره وايم، که تاسي هره ورځ د مطالعې کولو فرهنگ تعقيب کړئ؛ له باور زياتېدو سره سره به ستاسو په ژوند کې مثبت بدلونونه هم راشي، ځکه مطالعه کول تاسو ته د بريالي کېدو لارې چارې ښيي او تاسو نه پرېږدي چې خپلو کارونو کې پاتې راشی، لا مو هڅوي چې پرمختگ وکړی.

**۳- د کمزورتيا ټکي مو پيدا کړئ**

هڅه وکړئ چې خپل کمزوري ټکي وپېژنئ او د له منځه وړلو لپاره يې کلک هوډ وکړئ. که چېرې نه شی کولای د خپل وجود کمزوري ټکي له منځه يوسی، په خپل حال يې پرېږدئ او د جبران کولو لپاره يې له نورو لارو گټه واخلئ.

د بېلگې په ډول، که چېرې کومه جسمي، ارثي او يا هم مور زېږدي کمزوري ولرئ، کولای شی د ژوند د دغه تش ځای ډکولو لپاره خپلې علمي او هنري وړتياوې پياوړې کړئ.

**۴- نور خلک وهڅوئ**

پر ځان باوري خلک په زړه کې له نورو خلکو څخه کومه وېره او ډار نه لري؛ بلکې نور خلک تشويقوي او هغوی هڅوي، چې خپلې وړتياوې درک کړي او د برياليتوب په لوري گامونه اوچت کړي.

پر ځان د باوري کس په توگه ستاسې کار بايد دا وي، چې که څوک درته راځي او د يوې موضوع په اړه درسره خبرې کوي، هڅه وکړئ چې هغوی ته مثبت نظر ورکړئ او هغوی وهڅوئ، څو له موقع څخه سمه گټه پورته کړي.

**۵- له نورو سره خپل نظر شريک کړئ**

په کور، ښوونځي، پوهنتون او يا هم کارځای کې خپل نظر شريک کړئ، کله چې په يو ځای کې ستاسو د نظر مخالفت وشي او تاسو هغه څه د ځان او نورو لپاره ښه ووينی، که چېرې يې په ټينگه دفاع وکړی، پر ځان به مو باور ډېر شي .

**٦- موسکي اوسئ**

موسکا تر ټولو ښه عادت دی او کله چې تاسو يوه موسکا وکړی، نو دا نه يوازې دا چې تاسو ښکلي کوي؛ بلکې له تاسو سره شاوخوا ټول خلک د خوښۍ احساس کوي. خلک جدي او غصه ناک مخ نه خوښوي؛ بلکې داسې خلک خوښوي چې تل نرمه دريځه او موسکي وي. موسکا په تاسو کې يو موج لرونکی اغېز پرېږدي، کوم چې د نورو د خوشالولو سبب هم گرځي او د نورو خلکو په خوشالولو سره ستاسو پر ځان د باور کچه پياوړې کيږي، چې دا بيا د ښه شخصيت د ودې سبب گرځي.

**۷- هر وخت له نورو سره مرسته وکړئ**

هغه شخص چې نورو ته د مرستې لاس ورکوي، د ډېر مهربانه ضمير لرونکی وي او دا به يوازينی شخص وي چې د ځان په اړه د خلکو ښې هيلې او پرېمانه دعاگانې راټولوي. نو د مهربانه ضمير لرونکي شئ، خلکو ته په مهربانۍ د مرستې لاس ورکړئ او وروسته پر ځان ووياړئ.

**۸- د خپلې راتلونکې لپاره هيله مند اوسئ**

کله چې تاسې د خپلې راتلونکې لپاره هيله ولری، هغه ده چې تاسې به د يو ډول هڅونې حس هم کوی او کله چې مو هڅونه حس کړه، نو تاسې خپلو هيلو ته په ښه ډول د رسېدو لپاره د ثبات پر لاره ټينگ قدمونه اخلی. تل د راتلونکې لپاره ستري هيلې ولرئ او د رسېدلو لپاره ورته بريالي پلانونه جوړ کړئ، څو مو هيلې پر رښتيا واوړي او راتلونکي ته هيله مندي مو د ځان باورۍ سبب وگرځي.

## پنټاگون: روانه اونۍ به په افغانستان کې د امريکايي سرتېرو شمېر ۲۵۰۰ ته راکم شي

د امريکا د کانگرېس له مخالفتونو سره سره، د متحده ايالتونو دفاع وزارت وايي چې په افغانستان کې د خپلو سرتېرو شمېر راکموي.

په داسې حال کې چې د دفاعي بودجې د لايحې له تاييد وروسته، دغه هېواد بايد د خپلو سرتېرو شمېر له ۴زرو او ۵۰۰ راکم نه کړي، خو پنټاگون وايي، له افغانستانه د امريکايي ځواکونو د وتلو طرحه يې نه ده درولې.

د پنټاگون د پرېکړې له مخې، تر راتلونکو دوو ورځو پورې به په افغانستان کې د امريکايي ځواکونو شمېر له پنځو زرو ۲۵۰۰ تنو ته راټيټ شي. د پنټاگون په خبرپاڼه کې راغلي، چې تر اوسه د دغه بهير درولو لپاره کوم فرمان نه دی صادر شوی، خو سپينې ماڼۍ تر اوسه په دې تړاو څه نه دي ويلي. د پنټاگون پرېکړې له مخې، ټاکل شوې تر راتلونکو دوو ورځو پورې په افغانستان کې د امريکايي سرتېرو شمېر له ۴۵۰۰ څخه ۲۵۰۰ ته راکم شي.

دا په داسې حال کې ده چې په تېر ميلادي کال کې د امريکا او طالبانو ترمنځ د سولې هوکړې له مخې، امريکايي سرتېري بايد د مارچ تر مياشتې په بشپړه توگه له افغانستانه ووځي.

بلخوا د افغانستان اسلامي جمهوريت په مرکچي پلاوي کې ځينې سرچينې د سولې مذاکراتو د اجنډا په هکله توحيد ډېر وخت نيوونکی گڼي او وايي چې په تېرو څلورو ورځو کې هېڅ لوری له خپلو دريځونو نه دی په شا شوی.

دغې سرچينې رسنيو ته ويلي چې د افغانستان اسلامي جمهوريت مرکچي پلاوی غواړي چې لومړی د اوربند په هکله بحث وشي، خو طالبان بيا وايي چې د راتلونکي نظام په هکله له هوکړې وروسته به پر اوربند بحث پيل کړي.

د سرچينې په خبره، نه طالبان حاضر دي چې په لومړي سر کې د اوربند په تړاو هوکړه وشي او نه هم د افغانستان د اسلامي جمهوريت مرکچي پلاوی حاضر دی چې په لومړي سر کې د راتلونکي نظام په تړاو هوکړه وشي.

خو د ملي مصالحې عالي شورا ډاډ ورکوي چې د مذاکراتو د اجنډا د توحيد په تړاو د يوې حللارې د پيدا کولو لپاره مشورې روانې دي. د سولې په مذاکراتو کې د اجنډا د توحيد په تړاو د بحثونو احتمالي اوږدېدل په داسې حال کې مطرح کېږي، چې دواړه لورې تر درې مياشتنيو بحثونو وروسته د سولې مذاکراتو د پيلېدو پر کړنلاره سره سلا شول.

## مشرانو جرگه: د جگړې ښکېل اړخونه دې د ملکيانو ژوند ته جدي پاملرنه وکړي

مشرانو جرگه په هېواد کې د ملکيانو د مرگ ژوبلې روانه لړۍ د اندېښنې وړ بولي او په جگړه کې له ښکېلو لورو غواړي چې ملکيان دې نه په نښه کوي.

په مشرانو جرگه کې د نيمروز خلکو استازي محمد نادر بلوڅ په دې وروستيو کې د دغه ولايت په خاشرود ولسوالۍ کې د يوې کورنۍ د ۱۸ غړو وژلو ته په اشارې ويلي: «د افغانستان خلکو اوسني قاتلان حکومت، طالبان او امريکا دي، درې واړه په جنايت کې لاس لري، تر کومه به خلک د طالب مشرانو، حکومتي مشرانو او امريکا د گټو لپاره قرباني ورکوي.»

هغه له ملگرو ملتونو وغوښتل چې پر طالبان، افغان حکومت او امريکا فشار راوړي چې د خپلو گټو لپاره بې گناه خلک نه وژني.



نوموړي په قطر کې بين الافغاني خبرو ته په اشارې وويل: «په هر ډول چې سوله ټينگه شي، لاسته راوړنې دې پکې خوندي شي، زموږ لپاره مهمه نه ده چې په سر کې يې څوک وي، زموږ لپاره اساسي قانون، لاسته راوړنې او امنيتي ځواکونه مهم دي چې بايد وساتل شي.»

دغه راز په مشرانو جرگه کې د اروزگان د خلکو استازي امان الله عظيمي وويل، په دغه ولايت کې امنيتي وضعيت ورځ تر بلې خرابېږي او هره ورځ ملکي کسان وژل کېږي. هغه د ملکي کسانو د وژلو لړۍ بندېدو غوښتنه وکړه او له طالبانو يې وغوښتل چې د بېگناه وگړو له وژلو لاس واخلي.

په ورته مهال د مشرانو جرگې دويم نايب د ملگي وگړو د ترور ډېرېدو ته په اشاره طالبانو ته په خطاب کې وويل: «د امتياز ترلاسه کولو لپاره د خلکو له وژلو لاس واخلئ، قدرت ته د رسېدو لپاره له چاودنو او ځانمرگو بريدونو لاس واخلئ، که هر څومره خلک ووژنئ، څوک امتياز نه درکوي او په دې کار سره هېڅکله قدرت ته نه شئ رسېدلای.»

هغه د هېواد په کچه د ملکي وگړو او بېگناه خلکو مرگ ژوبلې د پای ته رسېدو غوښتنه وکړه او ويې ويل، طالبان او افغان حکومت دې هڅه وکړي چې د عملياتو په لړ کې يې ملکي کسانو ته زيان ونه رسېږي.

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدير:** اسدالله وحيدي
**مرستيال:** شفيق اميرزی
**اېډېټران:** جواد تيموري او امان الله حنيفي
**خبريالان:** حميدالله حميدي، حکمت آرين
او حشمت الله نوري
**گرافيک او ډيزاين:** ارمان
**چاپخونه:** وايگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer Daily
New Vision, New Journey



غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696 | waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul | waygalprinting.co@gmail.com



چهارشنبه د ۱۳۹۹ د مرغومې ۲۴مه | د ۲۰۲۱ د جنورۍ ۱۳مه | ٦٦۳مه ګڼه

www.Maseerdaily.af | twitter/MaseerDaily | Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۴ | ۱٦ | ۱۱ | ۱۲ | ۲۳ | ۸ |
| -۲ | -۲ | ۲ | ۵ | ۵ | ۱ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۳۲ | لمر ختل ۰۷:۰۰ | ماسپښین ۱۲:۰۲ | مازیګر ۰۳:۲۶ | ماښام ۰۵:۰٤ | ماخوستن ۰٦:۳۳

## نړۍ



په امریکا کې د واک پر سر کړکېچ؛

## اېف بي اې: ځینو کړیو پر کانګرېس او د ۵۰ ایالتونو پر مرکزونو د برید پلان جوړ کړی

۳

## ملګري ملتونه: د امریکا راتلونکی حکومت دې ګوانتانامو زندان وتړي

ملګرو ملتونو د امریکا پر راتلونکي نوي حکومت غږ کړی، چې د ګوانتانامو زندان دې وتړي. ملګرو ملتونو په دې تړاو په خپاره کړي راپور کې ویلي، چې د دوی بې پرې کارپوهانو د ګوانتانامو زندان د بندیانو روغتیایي حالت خرابېدونکی ګڼلی او غوښتنه یې کړې چې دا بندیان دې ژر تر ژره له بنده ازاد، یا محاکمه کړل شي.

ملګرو ملتونو سازمان په دغه راپور کې یاد زندان خپلسری او ناقانونه بللی دی. د دغه سازمان د معلوماتو له مخې، په ۲۰۰۳ز کال کې ۷۰۰ بندیان وو، خو اوس له ۴۰ عسکرو سره نهه تنه بندیان پاتې دي چې په خبره یې، په جرمونو تورن یا محکوم شوي دي. په دغه راپور کې چې د ملګرو ملتونو د بې پرې او ځانګړو کارپوهانو په حواله ورکړل شوی، راغلي چې کرونا ویروس هم د دغو پاتې بندیانو لپاره ستر ګواښ دی.

په راپور کې د امریکا له حکومت غوښتنه شوې چې بشري حقونه وساتي، د سرغړونو په اړه دې بې پرې څېړنې وکړي او د هغو کسانو لپاره چې په ګوانتانامو زندان کې یې د توقیف موده او شکنجې تېرې کړې، تاوان دې ورکړل شي.

د یادونې ده چې دغه زندان نولس کاله وړاندې په امریکا کې په یو جهیل کې جوړ شو چې د نړۍ د ګڼو هېوادونو سیاسي بندیان پکې ساتل کېدل.

## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا د مړو شمېر له یو میلیون او ۹۵۵ زرو کسانو واوښت



د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۹۱ میلیونه او ۴۱۴ زره او ۷۷۹ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله یو میلیون او ۹۵۵ زره او ۷۷۳ کسان مړه شوي او له ٦٥ میلیونو ډېر ترې بېرته رغېدلي دي.

د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۲۳ میلیونه او ۱۴۳ زره او ۱۹۷ ته رسېدلي او ۳۸۵ زره او ۲۴۹ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.

دغه راز هند د ۱۰ میلیونه او ۴۷۹ زره او ۹۱۳ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د اته میلیونه او ۱۳۳ زره او ۸۳۳ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېیم، روسیه د درې میلیونه او ۴۴۸ زره او ۲۰۳ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او بریټانیا د درې میلیونه او ۱۱۸ زره او ۵۱۸ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی، چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.

فرانسه، ترکیه، ایټالیا، هسپانیا او جرمني بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## قریشی: تنها با مالکیت و رهبری افغانها، یک راه حل سیاسی برای پایان جنگ به میان آمده می تواند



شاه محمود قریشی وزیر امور خارجهٔ پاکستان می گوید که کشور آنها به حمایت از یک افغانستان صلح آمیز، مستقل و پیشرفته ادامه می دهد.

در خبرنامه ای که از سوی وزارت امور خارجهٔ پاکستان، به نشر رسیده، آمده است که قریشی، این سخنان را در ملاقات با کریم خلیلی رئیس حزب وحدت اسلامی افغانستان اظهار کرده است. این در حالیست که خلیلی دو روز پیش، در یک سفر رسمی وارد پاکستان شده است.

منبع افزوده است که در این دیدار، دو طرف در مورد روابط افغانستان و پاکستان، روند صلح و سایر موارد صحبت کرده اند. شاه محمود قریشی وزیر امور خارجه پاکستان، گفته است که کشورش به حمایت از یک افغانستان صلح آمیز، مستقل و پیشرفته ادامه می دهد. به بیان وی، پس از افغانستان، پاکستان بیشتر به صلح افغانستان در منطقه علاقه مند می باشد.


قریشی افزوده است که آنها خواهان گسترش روابط با افغانستان در بخش های مختلف اند و به برخی پیشرفت های اخیر در این مورد نیز اشاره کرده است.

موصوف گفته است که پاکستان همیشه گفته است که جنگ افغانستان راه حل نظامی ندارد، و این چالش می تواند از طریق گفتگوهای صلح آمیز حل شود. به گفته وی، تنها با مالکیت و رهبری افغانها، یک راه حل اساسی سیاسی برای حل این منازعه به میان آمده می تواند.

قریشی افزوده است که پاکستان، به نقش مثبت خود در برابر کردن سهولت ها برای صلح افغانستان ادامه خواهد داد.

## ژوند

## سامسُنګ ګلکسي ایم۰۲ موبایل معرفي کړ



سامسُنګ کمپنۍ خپل ګلکسي ایم۰۲ نومی ځیرک موبایل چې عادي وړتیاوې لري، معرفي کړ. دا په ۲۰۲۱ کال کې د سامسُنګ کمپنۍ لومړی ځیرک موبایل دی. ګلکسي ایم۰۲ کې د کوالکام کمپنۍ سنپ ډراګن۴۵۰ ډوله پروسېسر کارول شوی دی. دغه موبایل د ۳ – ۴ ګیګابایټ رم او ۳۲ – ٦۴ ګیګابایټ د فایل ثبتونې وړتیا لري. کاروونکي د میموري کارت له لارې د فایل ثبتونې وړتیا یو ټېرابایټ ته هم لوړولی شي.

دغه ځیرک موبایل ٦,۵ انچه اېچ ډي پلس ډوله مخچانه او ۵۰۰۰ ملي امپیره وړتیا لرونکې بېټرۍ لري، چې ۱۵ واټ چټک چارج څخه هم ملاتړ کوي.

شاتنۍ برخه کې درې کامرې لري چې ۱۳ مېګاپکسله اصلي کامره، ۲ مېګاپکسله مکرو او ۲ مېګاپکسله ډېپټ سېنسر پکې شاملې دي. مخکینۍ برخه کې ۵ مېګاپکسله وړتیا لرونکې سېلفي کامره هم لري.

د دغه ځیرک موبایل بیه ۱۲۲ امریکایي ډالره ټاکل شوې ده.

## تور مرچ او معدې ته یې ګټې



تور مرچ نن سبا په ټوله نړۍ کې په پخلي کې ډېر کارول کېږي او تورو مرچو ته د مسالې ملکه هم ویل کېږي، یانې په خوړو کې د دې استعمال کولی شي چې د خوړو ذایقه خوندوره کړي. تور مرچ له پېړیو راهیسې په خوړو کې کارول کېږي او اوس یې هم د کارولو لړۍ دوام لري. تور مرچ نه یوازې د خوړو ذایقه خوندوره کوي؛ بلکې دا د ځینو ناروغیو مخه هم نیسي. تور مرچ پر ډېرې ګټو سربېره، د زړه ناروغیو لپاره هم خورا ګټور دي او د معدې ناروغۍ ستونزو حل کې رغنده رول لوبوي.

د تورو مرچو استعمال مو اشتها فعاله کوي او قبضیت له منځه وړي. په تورو مرچو کې داسې کیمیاوي مواد شته چې د اسهال ناروغۍ په مخنیوي کې ګټور ثابتېږي. تور مرچ عصبي سیستم قوي کوي او د معدې چینجي وژني.

تور مرچ په پورتنیو ګټو سربېره نورې روغتیایي ګټې هم لري، نو له همدې امله کارپوهان سپارښتنه کوي، چې د خوړو په لېست کې مو د تورو مرچو استعمال ور اضافه کړئ، څو مو روغتیا خوندي وي.




عزیزي بانک
Azizi Bank

د ازي پې (AZIPAY) پرمختللې بڼه

عزیزي بانک خپلې د ازي پې بټوې ته پراختیا ورکړې چې تاسو ته پراخ خدمتونه او کټې لکه: بایومتریک ننوتل-د ګوتې او مخ پېژندنې له لارې، څو ژبې (پښتو، دري او انګلیسي) کارول، د ډالرو کارونه، د صورت حساب او کوچنۍ سټېټمنټ لیدل، د صرافۍ خپلکاره ماشین څخه د ازي پې پرمټ د کارت پرته پیسې وېستل، د مبایل شمېرې ته پیسو استول او د د صرافۍ خپلکاره څخه یې ماشین ترلاسه کول، د مبایل شمېرې ته کریډیټ زیاتول، د بل اداینه او نورې برخې وړاندې کوي

مهرباني وکړئ نوې بڼه یې له اپسټور او پلې سټور څخه ډونلوډ (ښکته) کړئ، د لازیاتو معلوماتو لپاره 1515 شمېرې سره اړیکه ټینګه کړئ.

www.azizibank.af | 1515